**مطبوعاتي اعلامیه**

# اې د مسلمانانو لښکرو: د نبوت پر منهج دويم راشده خلافت د تاسيسولو لپاره طوفان اعلان کړئ

**(ژباړه)**

په غزه کې روغتيا وزات د ۲۰۲۳م کال د اکتوبر په ۹مه اعلان وکړ چې د يهودي دولت لخوا د شنبې سهار راهيسې پيل شوې جګړه کې د ۱۴۰ ماشومانو او ۲۰۵ ښځو په ګډون ٦٨٧ تنه شهيدان شوي او ۳۷۲٦ تنه ټپيان؛ د دغو قربانيانو ۱۰٪ ماشومان دي. لسګونو زره فلسطيني کډوال د ملګرو ملتونو د مرستې او کار ادارې (UNRWA) سره تړلو ښوونځيو ته بې ځايه شوي. (دا ارقام د اعلاميې د ليکلو تر وخت پورې دي)

دغه ډارن او جنايتکاره دولت د غزې پر ملکي خلکو په تېره بيا ښځو او ماشومانو خپله غوسه سړوي؛ کورنۍ له منځه وړي، ټپي کوي يې، بې ځايه کوي يې، کورونه او شتمنۍ يې له منځه وړي او ان پر هغو ښوونځيو بمباري کوي او هغه ځايونه او زيربناوې ويجاړوي چې دوی پناه ور وړې. دا هر څه وروسته له هغه پيښېږي چې يوې وفادارې ډلې د يهودي دولت او دغه کمزوري کور ړنګېدل په ډاګه کړل؛ دغه يهودي دولت ته دننه شول او د دوی پر ليکو او اوسېدنځايونو يې يريد وکړ؛ ويې وژل او ټپيان يې کړل، ژوندي يې ونيول او زيانونه يې ور واړول. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[لأَنْتُمْ أَشَدُّ رَهْبَةً فِي صُدُورِهِمْ مِنَ اللهِ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لا يَفْقَهُونَ * لا يُقَاتِلُونَكُمْ جَمِيعاً إِلا فِي قُرًى مُحَصَّنَةٍ أَوْ مِنْ وَرَاءِ جُدُرٍ بَأْسُهُمْ بَيْنَهُمْ شَدِيدٌ تَحْسَبُهُمْ جَمِيعاً وَقُلُوبُهُمْ شَتَّى ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لا يَعْقِلُونَ]**

**ژباړه:** د دوی په زړونو کې له الله سبحانه وتعالی څخه ډېره ستاسو ويده ده، ځکه چې دا داسې خلک دي چې پوهه او درک نه لري. دوی (يهودان) به هېڅکله په راجمع کېدلو (ميدان کې) ستاسو سره مقابله ونه کړي. که جنګيږي وهم، نو په کلا بندو کليو کې به په کېناستلو يا د دېوالونو تر شا په پټېدلو سره وجنګيږي. دوی په خپلو منځونو کې سخت مخالفت لري. تاسو فکر کړئ چې دوی سره متحد دي، خو د دوی زړونه يو له بله بېزاره شوي ده او دا د دوی د بېعقلۍ له امله دی. [حشر: ۱۳-۱۴]

**اې اسلامي امته:** فلسطين او الاقصی ستاسو د عقيدې برخه ده. د خپلو خلکو د ملاتړ لپاره حرکت کول او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اسرا له ځای څخه دفاع کول پر تاسو فرض دي. په لښکرو کې خپل زامن وهڅوئ چې خپلو مظلومو ورونو ته د نصرت لپاره حرکت وکړي او د خپل پيغمبر صلی الله علیه وسلم د اسرا ځای ازاده کړي. د مزدورو او غلامو واکمنانو زنځيرونه مات کړي او هغه خيالي پولې ونړوي چې دوی د امت د تفرقې او پاشلو لپاره جوړې کړې دي.

**اې د مسلمانانو د لښکرو مخلصو افسرانو:** تاسي وليدل چې د يهودو وجود د غنې له ځالې څخه هم کمزوری دی او د مجاهدينو يوې ډلې دومره زيان ور واړاوه. اوسېدنځايونو ته يې ورننوتل او د دوی په زړونو کې يې سخته وېره واچوله. نو که چېرې تاسو، چې ټانکونه او الوتکې لرئ، حرکت وکړئ، حالت به يې څنګه وي!؟ يهودي دولت به يو ساعت هم دوام ونه شي کړی او له منځه به ولاړ شي! ايا ستاسو روحونه د فتحو په تمه نه دي؛ نه غواړې چې نومونه مو د هغو کسانو په پاڼو کې وليکل شي چې د الله سبحانه وتعالی دين ته يې نصرت ورکړی؛ لکه سعد بن معاذ، خالد بن وليد او المتصم!؟ کله چې دغه ډارن ظالمان ستاسو د پيغمبر صلی الله علیه وسلم د اسرا ځای سپکاوی کوي او هلته پر مېرمنو بريدونه کوي؛ نو وينه مو نه ورته راخوټېږي!؟ آيا تاسو د هغو مجرمينو اطاعت کوئ چې له الله سبحانه وتعالی او د هغه له رسول صلی الله علیه وسلم سره يې خيانت کړی او له جنايتکارو يهودانو سره يې اړيکې عادي کړې؛ ان له دوی څخه يې ساتنه کړې او دوی ته يې د امريکايي مرستو د رسولو لپاره خپلې هډې او هېوادونه ورکړي دي. ايا تاسو د هغه رب العالمين اطاعت نه کوئ چې تاسو ته د خپلو مظلومو ورونو د ملاتړ امر کوي!؟

**﴿وَإِنْ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمْ النَّصْرُ﴾**

**ژباړه:** که چېرې دوی د دين په اړه له تاسو څخه نصرت وغواړي، نو تاسو بايد دوی ته نصرت ورکړئ.[انفال: ۷۲]

ستاسو دا غفلت او بې کفايتي به څومره دوام وکړي!؟ په الله قسم چې زموږ روحونه د فتحې او آزادۍ له لښکر څخه د «الله اکبر» نارو اوريدلو ته سخت په تمه دي. د هغې ورځې له هيبته به دغه ډارن دولت خپلې شيطاني زمزمې هيرې کړي. ايا ستاسو روح د دغې لويې صحنې ليدلو هيله نه لري!؟ رب ته مو خپلې نيکۍ ښيئ او د نبوت پر منهج دويم راشده خلافت د تاسيسولو لپاره خپل طوفان اعلان کړئ.

**[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ الله اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ * إِلَّا تَنْفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَاباً أَلِيماً وَيَسْتَبْدِلْ قَوْماً غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئاً وَاللهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ]**

**ژباړه: اې مومنانو پر تاسو څه شوي دي، کله چې تاسو ته د الله سبحانه وتعالی په لاره کې د وتلو (جهاد) وويل شي، نو تاسو په ځمکه درانده کېنئ؟ ايا تاسو د اخرت په پرتله د دنيا ژوند ته لومړيتوب ورکوئ؟ که چېرې داسې وی، نو خبردار اوسې چې د دنيا د ژوند ټول وسايل د اخرت په پرتله هېڅ ارزښت نه لري، مگر ډېر لږ. که تاسو (جهاد) ته نه ځئ، نو الله سبحانه وتعالی به تاسو ته ډېر دردناک عذاب درکړي او د تاسو پر ځای به بل قوم راپورته کړي او تاسو به الله سبحانه وتعالی ته هېڅ زيان ونه شئ رسولی. الله سبحانه د هر څه د ترسره کولو قدرت لري.** [توبه:۳۸-۳۹]

## د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر

## ښځو برخه

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د ربيع الاول ۲۵مه**

**۲۰۲۳م کال، د اکتوبر ۱۰مه**

**د صدور گڼه:۴۵/۰۰۵**